بسم الله الرحمن الرحیم

# په غزه کې د اوربند غوښتنې لپاره په امریکایي پوهنتونونو کې لاریونونه

**خبر:**

د نړیوالو پام په امریکایي پوهنتونو کې د محصلینو لاریونونو ته اوښتی چې پر غزه د «اسرایلو» د جګړې درول غواړي. دا پراخېدونکي لاریونونه د کلمبیا او هارورډ پوهنتونو په ګډون د امریکا په یو شمېر نوموتو اکاډمیکو مرکزونو کې پیل شوي. (الجزیره، ۲۶/۴/۲۰۲۴)

په ټوله امریکا کې دا لاریونوال له پوهنتونو غواړي چې له هغو کمپنیو او افرادو سره بایکاټ وکړي چې له اسرایلو سره اړیکه لري.

د فلسطین پلوه لاریونوالو خیمې لومړی په کلمبیا پوهنتون کې ودرول شوې او همدا لومړی پوهنتون و چې پر یهودیت-ضد تورن شو. تېره اونۍ ۱۰۰ تنه لاریونوال وروسته له هغې ونیول شول کله چې د آیوي لیګ ( Ivy League) پوهنتون رییسې له پولیسو وغوښتل چې د لاریون مرکز تخلیه کړي. هغې دا غوښتنه وروسته له هغې وکړه چې کانګرس ته د پوهنتون په محوطه کې د یهودیت ضد تورونو په اړه ځواب ویلو ته حاضره شوې وه. خو د هغو لاریونوالو په وینا چې یوه اونۍ وروسته هلته پاتې وو؛ داسې ښکاري چې دې لهایزو نیونو دا غورځنګ نور هم پیاوړی کړی دی. (BBC)

**تبصره:**

دې ته له پام پرته چې دا لاریونونه سولهایز دي؛ په لویو پوهنتونونو کې د استادانو په ګډون تر ۵۰۰ زیات لاریون کوونکي نیول شوي. په کلمبیا پوهنتو کې له پیل کېدو وروسته دغه لاریونونه اوس ډېر پراخه شوي. په استین او تګزاس کې والي ایالتي پولیسو ته امر وکړ چې لاریونوال ونیسي. پولیس او نور د لاریون ضد ځواکونه رابلل شوي چې د لاریون کوونکو مخه ونیسي او هغه خیمې لرې کړي چې د پوهنتونو په محوطه کې د غزې په ملاتړ درول شوې او غواړې چې د غزې د خلکو پر وړاندې د یهودي جنایتکارو او وحشي ځواکونو بریدونه د تل لپاره ودرېږي.

د لاریون کوونکو پر وړاندې د تاوتریخوالي نه کولو خبره بې ارزښته وه؛ د بیان ازادي، د راغونډېدو حق او په سوله‌ایز ډول د مخالفې خبرې کولو حق ټول له پامه غورځول شوي وو. په ویډیوګانو کې ښکاري چې څنګه پر ځوانو او زړو سوله‌ایزو لاریون کوونکو فزیکي برید کیږي. د پوهنتونو مشرتابه پلاوي د امریکا له بهرني سیاست سره چې په غزه کې د اسراییلو له نسل‌وژنې ملاتړ کوي، همغږي دي. سره له دې بیا هم بااحساسه، زړور او د سالم وجدان لرونکي د فلسطین او غزې په ملاتړ او یهودو د نسل وژنې د غندلو لپاره خپل غږ پورته کوي. د کلمبیا پوهنتون محصل، کیماني جمیز ~~د یوې خبرې غونډې پر مهال~~ وویل: «څو مو چې غوښتنې نه وي پوره شوې؛ همدلته به وو.»

د یهودي رژیم پر وړاندې د موقف بدلولو لپاره پر امریکا عمومي فشارونه مخ پر ډېرېدو دي- خو سره له دې به دا فشارونه له پامه وغورځوي؛ ځکه چې امریکا لوی هدف لري او هغه له فلسطین اخوا ټول منځنی ختیځ رانغاړي.

اوس که چیرې په اسلامي خاورو کې مسلمان پوځونه عمومي فشارونه ومني، نو د فلسطین په سپېڅلې خاوره کې به د جنایتکار اشغالګر یهود نسل‌وژنې ته د پای ټکی کیږدي. څومره نور لوی لاریونونه وشي چې د مسلمانانو پوځونه په حرکت راشي؟ څومره نور ډله‌ایز قبرونه کشف شي چې د مسلمانانو پوځونه په حرکت راشي؟ د فلسطین د خلکو څومره نورې نسل‌وژنې وشي چې د مسلمانانو پوځونه راوپارېږي؟؟؟

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**منال بدر**

**۱۴۴۵هـ.ق کال، د شوال ۲۰مه**

**۲۰۲۴م کال، د اپریل ۲۹مه**